# د سُستۍ او ناراستۍ

## نه به نجات څنګه حاصل شي؟

11-February-2021



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡ سَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِا للّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د سُستیٔ او ناراستیٔ نه به نجات څنګه حاصل شي؟

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ الله
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ الله

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** جُمات ته تلل راتلل د ثواب کار دے، چې کله جُمات ته د حاضریدلو سعادت حاصل کړئ نو په یاد سره د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه چې تر څو پورې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. دا شرعي مسئله یاده ساتئ چې! په جُمات کښې خوراک څښاک، اُوده کیدل، پیشمنے، روژه ماتے کول، اګر که دَم کړي اُوبه وغیره وي څښل جائز نه دي، خو که د اِعتِکاف نِیَّت مو کړے وو نو ضِمناً به دا څیزونه هُم جائز شي. یاده ساتئ! د اِعتِکاف نِیَّت صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدلو د پاره کول نه دي پکار بلکه چې مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاویٰ شامی**" کښې دي: که څوك جُمات کښې خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکۡرُ الله اوکړي بیا چې څه غواړي کولے شي (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي) که کیدے شي نو د اِعتِکاف د نِیَّت کولو نه پس دولس ځله دُرُود شریف اووائې یا بل یو نیک کار اوکړئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه

ثواب به مو زيات شي او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراک څښاک او اُوده کيدل وغيره هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: چا چې په ما باندې پوره ورځ کښې زر (1000) ځله دُرود شريف اُووئيل، هغه به د هٰغه وخته پورې نه مري تر څو پورې چې په جَنَّت کښې خپل ځائے اُو نه وِينې.(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.2

ياد ساتئ! په نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو:

نِيَّت اوکړئ چې، نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني

---

1... اَلتَّرْغِيْب وَالتَّرْهِيْب، صفحه:565، حديث:22

2 .... معجم كبير سهل بن سعد الساعدى...الخ، ١٨٥/٦، حديث ٥٩٤٢

د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې ] کښینم ❀ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو هم نیت اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ آقا اندازِ تربیت

خادمِ رسول، حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې یو انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې معاشي حالات ئې ډیر کمزوري وو، هغه یوه ورځ د سخي آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شو او د امداد سُوال ئې اوکړو.

یاد ساتئ چې! سخاوت صرف د مال تقسیمول نه دي، اصل مقصد د ضرورتمند ضرورت پوره کول دي، بعضې وخت مونږه دا ګنړو چې زمونږه ضرورت مال دے حالانکه داسې نه وي، زمونږه اصل ضرورت څه دے؟ دا **اللّٰه** پاك او د هغه نعمتونه تقسیمونکي رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته معلومه وي، هغه انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم دا ګنړل چې زما ضرورت مال دے او هغوئي د مالي امداد د پاره د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې سُوال کړے وو خو

بے خبر ہو جو غلاموں سے وہ آقا کیا ہے

یعني هغه څه مالِک وي چې د خپلو غلامانو نه بے خبره وي؟

په غیبو باندې خبردار آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته معلومه وه چې د هغه اصل ضرورت مال نه دے بل څیز دے، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اوفرمائیل: آیا ستا په کور کښې هیڅ څیز نشته؟ هغه عرض اوکړو: زمونږ په کور کښې یوه درئ ده هغه مونږه نیمه لاندې اوغوړوو او نیمه د پاسه واغوندو، یوه پیاله ده په هغې کښې اوبه څښو.

اَللّٰهُ اَکْبَر! د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان **فَقْر** اُوګورئ! د کور ټول سامان ئې يوه درئ او يوه پياله ده خو قربان شم! د داسې حالاتو باوُجود هم د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان اِيماني جذبه کښې کمي نه راځي، په دې حالاتو کښې هُم د هغوئي لمُونځونه نه قضا کيږي، په کور کښې به ئې د خوراك څښاك هيڅ څيز نه وو، خو د دې باوُجود به ئې پابندئ سره روژے نيولې، صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان به د لوږې نه په خيټه کانړي تړل، خو د دې باوُجود چې غزوهٔ بدر ته اوغوښتلے شو نو هلته اورسيدل، چې اُحد ته اوغوښتلے شو هلته اورسيدل، چې غزوهٔ تبوك ته اوغوښتلے شو نو هلته اورسيدل-

خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اوفرمائيل: لاړ شه! او دواړه څيزونه راوړه! اَنصاري صحابي کور ته لاړلو، [او بيرته رغلو] درئ او پيالئ ئې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې پيش کړل، رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اعلان اوکړو: څوك دا څيزونه اخلي؟ يو اَنصاري صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْه عرض اوکړو: يارسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه ئې د يو درهم په بدله کښې اخلم. حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: څوك شته چې په دوه درهمه ئې واخلي. يو بل صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْه عرض اوکړو: حُضُور! زه ئې د دوو درهمو په عوض کښې اخلم، نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دواړه څيزونه هغه صحابي ته ورکړل او دوه درهمه ئې ترينه واخستل او د څيزونو مالك ته ئې درهمونه ورکړل او ورته ئې ارشاد اوفرمائيلو: د يو درهم غله (يعني د خوراك څښاك څيزونه) واخله او کور ته ئې اورسوه، په دويم درهم تبرګے واخله او ماله ئې راوړه! صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْه زر بازار ته لاړو، غله ئې واخسته، کور ته ئې يوړله، تبرګے ئې واخستلو او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: تاجدارِ انبياء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپلو لاسو مبارکو په هغه تبرګي کښې لاسکے واچولو.

**اَللّٰه! اَللّٰه!** داسې آقا به هُم زمانے نه وي ليدلے ! شان ئې اوګورئ چې اِمامُ الانبياء

دے، د الله محبوب دے، د کوثَر مالِك دے، **الله** پاك زمکے او آسمانونه د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له خاطره پيدا کړي دي، داسې عِزَّت او داسې مرتبه! د دې باوُجود ئې غُلامانو سره تَعَلُّق اوګورئ! چې په خپلو لاسو مبارکو په تبرکي کښې لاسکے اچوي.

اَرباب نظر کو کوئی ایسا نہ ملے گا

بندے تو مل ہی جائیں گے آقا نہ ملے گا

اربابِ نظر به څوک داسې پيدا نه کړي

بندګان خو به پيدا کړي آقا به پيدا نه کړي

**اے عاشِقانِ رسول!** د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اندازِ تربيت اوګورئ! صحابۀ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوان به د حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اشاره باندې خپل سرونه قربانولو ته تيار وو، که خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْه ته صرف دا فرمائيلے وے چې درئ او پياله خرڅه کړه، تبرکے واخله، نو دا فرمائيل هم کافي وو، هغه به په فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ضرور عمل کړے وے خو سردارِ انبياء صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف ارشاد اُونه فرمائيلو بلکه عملي طور ئې دا هر څه اوکړل، معلومه شوه چې د چا تربيت کوئ نو هميشه به د هغه په لاس کښې خپله ګوته ورکوئ او په ځان پسې به ئې روانوئ، چې د قوم تربِيَّت کوئ نو د لاسه به ئې نيسې او اودروئ به ئې، په دې کښې د مُبَلِّغِينو د پاره درس دے چې اصلاح کول صرف په وَينا کولو نه کيږي بلکه ښه طريقه دا ده چې عملي طور تربِيَّت اوکړے شي، مونږه تنکيږو ډير زر، مَثَلاً دا وائيو چې ما فلانکي ته ډير ځله د لمَانځه دعوت ورکړ خو هغه ئې هډو مني نه، اے وروره! که نه مني نو څه اوشو؟ تاسو د هغه کور ته لاړ شئ، دروازه ورته اوډبوئ، په ډيره مينه ورته سلام اوکړئ، په ډيره حِکمَتِ عملئ سره ئې د ځان سره جُمات ته روان کړئ بيا دغسې که په کور کښې ماشوم څه غلطي اوکړي نو هغه يو دوه ځله پوهه کړي او په دريم ځل ئې يو څپيړه وهي، **خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** داسې کول نه

دي پکار، دا غلط انداز دے، که د چا تربيت کول غواړئ نو زړه مه تنګوئ، حِکمَتِ عمَلي اختيار کړئ. زمونږ د خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تربيت انداز به هُم دا [يعني د حِکمت عملئ نه ډک] وو، بيا د داسې مبارك انداز نتيجه هُم ټولې دُنيا اوليدله! داسې قوم چې هغه وخت ئې په دُنيا کښې هيڅ عِزَّت نه وو، سَيِّدُ الْمُبَلِّغِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعَالَمِيْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه قوم داسې تربيت اوفرمائيلو چې هغوئي عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ئې د دُنيا اِمامان جوړ کړل.

کس نے ذروں کو اُٹھایا اور صحرا کر دیا | کس نے قطروں کو ملایا اور دریا کر دیا
کس کی حکمت نے یتیموں کو کیا دُرِّ یتیم | اور غلاموں کو زمانے بھر کا مولا کر دیا

خير! خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورله په خپلو لاسو مبارکو په تبرکي کښې لاسکے واچولو او اَنصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ ته ئې ورکړو او ورته ئې اوفرمائيل: ځنګل ته لاړ شه، لرګي کټ کوه، او په بازار کښې ئې خرڅوه! د پينځلسو ورځو پورې ما ته مه راښکاره کيږه. اَنصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ تبرکے واخستو او لاړو. پينځلس ورځې پس چې بيرته راغلو نو په لاس کښې ئې لس دِرهمه وو، نبـي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې اوليدلو نو خوشحاله شو او اوئې فرمائيل: ته که سوال اوکړې نو هغه سُوال به د قيامت په ورځ ستا په مخ داغ جوړ شي، ستا په خپلو لاسو ګټل او خوړل د دې نه ډير بهتر دي.[1]

جو کرتے ہیں محنت، مشقت زیادہ | خُدا اُن کو دیتا ہے برکت زیادہ
څوک چې کوي محنت او مشقت ډير | اللّٰه هغوئي ته ورکوي بَرَکت ډير

[1]…ابوداؤد، کتاب زکاة، باب ماتجوز فيه المسالة، صفحه:269، حديث:1641، خلاصةً۔

# په محنت کښې عَظَمت دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې حکايت نه د محنت اَهَمِّيَّت معلوم شو. محنت د کاميابئ کُنجي ده، د **الله** پاك خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محنت** خوښوي. زمونږ په مُعاشره کښې عجيبه نظام دے، ډير داسې خلق دي چې د غټو غټو نوکرو ښکلي خوبونه ويني، په يوه شپه کښې د مالداريدلو خواهش لري خو د محنت مزدورئ نه ډډه کوي. ياد ساتئ! د انسان عظمَت په محنت کولو کښې دے. د **الله** پاك آخري نبي فرمائيلي دي: **اِنَّ اللهَ تَعَالٰی يُحِبُّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ الْمُحْتَرِفَ** بيشکه **الله** پاك په طَلَبِ معاش کښې تکليف اوچتوونکے مُؤمِن خوښوي.[(1)] د ټولو نه افضل رسول، رسولِ مَقبُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې تپوس اوکړے شو: د ټولو نه پاکيزه عمل کوم يو دے؟ اوئې فرمائيل: د سړی د خپل لاس ګټه خوړل.[(2)]

په حديثِ پاك کښې دي: **اَلزَّحْمَةُ رَحْمَةٌ** زَحمت يعني مشقت رحمت دے.[(3)] افسوس! مونږه صرف آساني غواړو، او آرام خوښول زمونږ د طبيعت حِصَّه جوړه شوي ده، سُستي د وَينو په شان زمونږه کردار د دننه نه خوري، ☆ پخپله پاڅيدل او اوبه څښل مونږه بوج محسوسوو، ☆ طعام تيار غواړو، ☆ جامے صفا وِينځلي غواړو، ☆ موټر سائيکل، موټر وغيره چلوو مونږه خو غواړو چې مرمت ئې را له بل کولے، ☆ هر څيز ريموټ کنټرول والا شو، ☆ غواړو چې پکے، بلب وغيره هر څيز پخپله بليږي او چليږي او پخپله مړ کيږي چې مونږ ته د پاڅيدلو تکليف پيښ نه شي،☆ اوس خو دروازے هم

---

[1] ...جامع صغير، صفحه:116، حديث:1873۔

[2] ...شعب الايمان، باب التوكل والتسليم، جلد:2، صفحه:88، حديث:1238۔

[3] ...مقاصِدُ الحسنة، حرف الزای، حديث:534۔

په سَيْنُسَر بيرته کيدو او بنديدلو والا راغلي دي، په لاس د دروازے بيرته کولو او بندولو مشقت هم نه شو برداشت کولے، ☆ په ديني کارونو کښې سُستي، ☆ په لمُونځونو کښې سُستي☆ عِلمِ دين زده کولو کښې سُستي ☆ قرآنِ مجيد لوستلو کښې سُستي ☆ په سُنتو عمل کولو کښې سُستي ☆ په قرض بيرته ورکولو کښې سُستي ☆ غرض دا چې هر ځائے کښې سُستي، سُستي او سُستي ده او د دې سُستئ په وجه مُعاشره ورځ په ورځ د زوال جورې کندې ته غورزيږي، ياد ساتئ! سُست او آرام خوښوونکے سړے هيڅ کله نه شي کاميابيدلے.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! افسوس! نن صبا مستحبات څه چې په فرائضو او واجباتو ادا کولو کښې هم بعضې خلق سستي کوي حالانکه فرائض و واجبات ادا کولو کښې سُستي کول د منافقينو علامت دے. څنګه چې د پينځه وخته لمَانځه مُتَعَلِق په قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ (پ۵، النسآء: ۱۰۳) | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه لمُونځ په مسلمانانو باندې په مقرر شوي وخت فرض دے. |

معلومه شوه چې د هر لمَانځه د پاره يو خاص وخت مقرر دے، د هغې خيال ساتل لازم او ضروري دي، څوک چې د دې د وخت خيال نه ساتي يا په ادا کولو کښې سُستي کوي، د هغوئي مُتَعَلِق ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ اِذَا قَامُوْۤا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ (پ۵، النسآء: ۱۴۲) | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او چې کله په لمَانځه اودريږي نو په مات زړه اودريږي، خلقو ته ښودنه کوي. |

په تفسير صِراطُ الْجِنان جلد 2 صفحه 335 کښې دي: د منافقانو علامت دا دے چې کله د مومنانو سره په لمَانځه ت اودريږي نو په مړ زړه او په سُستۍ اودريږي ځکه چې د هغوئي په زړه کښې اِيمان خو نشته چې د هغې په وجه ورته د عبادت شوق او د بندګۍ خوند حاصل شي، صرف خلقو ته د ښودنې د پاره لمُونځ کوي. د دې نه معلومه شوه چې په لمَانځه کښې سُستي کول د منافقانو علامت دے. لمُونځ نه کول يا صرف د خلقو په مخکښې کول او يواځې نه کول يا د خلقو په مخکښې په خُشُوع و خُضُوع سره او يواځې زر زر لمُونځ کول يا په لمَانځه کښې اخوا ديخوا خيال بوتلل، د زړه په تَوَجُّه سره د لمَانځه کوشش نه کول وغيره ټولې د سُستۍ نښے دي.

نہ نیکی کی دعوت میں سُستی ہو مجھ سے | بنا شائقِ قافلہ یا الٰہی!

## په نيکو اعمالو کښې سُستي

اے عاشِقانِ رسول! سُستي لرې کړئ او فرائض واجبات او ټولې ذمه وارئ په وخت د ادا کولو عادت جوړولو کوشش اوکړئ، په نيکئ کولو کښې تادي کوئ ځکه چې دُنيا د آخِرت کرونده ده، په دې کښې يو داسې تجارت دے چې ګټه ئې په آخِرت کښې ميلاويږي، خو افسوس! بعضې نادانه دُنياوي ژوند ته په آخرت باندې ترجيح ورکوي او د نيکئ دعوت ورکولو او د بدئ نه منع کولو کښې سُستي کوي.

ياد ساتئ! مونږ له سُستي او ناراستي کول نه دي پکار بلکه ځان نه د سُستۍ لرې کولو او د نيکو اعمالو په ذريعه ځان نيك طبيعته جوړول پکار دي ځکه چې صحت مند او نيك طبيعته کيدل هم د **الله** پاك د نِعمتونو نه يو نِعمَت دے څنګه چې **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوک چې د **الله** پاك نه يَريږي د هغه د پاره صحت مند

کيدل د مالدارۍ نه زيات بِهتر دي او نيك طبيعته کيدل د ډيرو نعمتونو مجموعه ده. [1]

حضرت سَيِّدُنا محمد بِن کَعْب رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه د دې ارشاد مبارك په وضاحت کښې فرمائي چې د بدن صحت مند کيدل په عبادت کولو کښې مدد ورکوي. صحت يو عظيم نِعمَت دے. بيمار او سُست انسان د عبادت کولو نه لاچاره او عاجزه وي او د صحت و تندُرستۍ سره غريبي د دې خبرې نه بهتره ده چې د لاچارۍ [يعني په خپلو لاسو ښپو د څه کولو د طاقت نه لرلو] سره مالداري وي او نيك طبيعته کيدل يو داسې روحاني خوشحالي ده چې د دې په سبب **الله** پاك خپل بنده ته د اطاعت کولو توفيق ورکوي او (په عبادت کولو باندې) د تنګيدلو نه پاك ژوند او بدن ورعطا کوي او هغه ته (د دُنيا) د خوفناکو خطرو نه امن ورکوي او چې کله ژوند د خطرو او انديښنو نه محفوظه شي او تنګي نه محسوسوي نو زړه ژوندے اوسي او نفس مطمئن شي، داسې کس په نعمتونو مالا مال شي. [2]

## د سستۍ متعلق درې حديثونه

﴿1﴾: بخاري شريف، حديث نمبر: 6223 کښې دي: اِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعِطَاسَ ويَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ بيشکه الله پرنجے خوښوي او هوَکے نه ناخوښه ګڼړي-[3] حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه د دې وجه بيانولو کښې فرمائي: هَوَکے د زيات خوراك په وجه

---

1 ...مسند احمد، جلد:9، صفحه:457، حديث:23802۔

2 ...دُنیا سے بے رغبتی اور امیدوں کی کمی، صفحہ:67 بتغير قليل۔

3 ...بخاری، کتاب الادب، باب مایستحب من العطاس...الخ، صفحہ:1540، حدیث:6223، ملتقطاً۔

راځي او دا د سُستئ علامت دے ځکه الله پاک ته ناخوښه دے-[1] معلومه شوه چې الله پاک او د هغه حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُستئ علامتونه هُم نه خوښوي-

﴿۲﴾: مکِّــی مَدَنــی تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت مُتَعَلِّق د څلورو څيزونه په باره کښې ويره ښکاره کړې ده، فرمائي: اَخْشٰی مَاخَشَيْتُ عَلٰی اُمَّتِی [يعني] زه چې د خپل اُمَّت په مُعامله کښې د کومو خبرو زياته ويره لرم هغه دا دي: ❁ د خيټې غټ کيدل (د دې نه مُراد قدرتي پيړ والے نه دے بلکه عُلَماء فرمائي هغه پيړوالے بد دے کوم چې د زيات خوراک څښاک او عَيش و عِشرت په ذريعه پېچله پيدا کړے شي) ❁ مُدَوَامَةُ النَّوْمِ زيات اُوده کيدل ❁ اَلْكَسْلُ سُستي ❁ وَضُعْفُ الْيَقِيْنِ او د يقين کمزوري-[2]

﴿۳﴾: يو ډير ښکلے حديثِ پاک دے، آخري نبي، مکِّــی مَدَنــی تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلصَّبْرُ نِصْفُ الْاِيْمَان صبر نِيم ايمان دے-[3] حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: ايمان د زړه د يقين نوم دے او د دې ايمان ډيرې تقاضے دي، لـمونځ د ايمان تقاضه ده، زکوٰة د ايمان تقاضه ده، حج د ايمان تقاضه ده، د نيکئ دعوت ورکول د ايمان تقاضه ده، د بدو نه منع کول د ايمان تقاضه ده، خير ښيګړه کول د ايمان تقاضه ده، دوه څيزونه د ايمان په دې تقاضو باندې عمل کولو کښې رُکاوټ جوړيږي: (1) سُستي (2) د نفس خواهش،

---

[1]... فيض القدير، جلد:2، صفحه:367، تحت الحديث:1871-

[2]... جامع صغير، صفحه:25، حديث:295-

[3]... معجم الكبير، جلد:4، صفحه:463، حديث:8466-

ولې چې صبر د سُستۍ او نفس خواهش حصار کړي او د ايمان په تقاضو باندې عمل کولو کښې مدد ورکوي، ځکه ئې فرمائيلي دي چې: صبر نِيم اِيمان دے- (1)

## سُستي څه ته وائي؟

سُستي اصل کښې د رفتار وَصف دے، يو کار چې تاسو په يوه ګينټه کښې کولے شئ خو په هغې کښې غفلت اوکړئ، او د آرام طَلَبۍ په وجه هغه په دوه، درې يا څلور ګينټې کښې پوره کوئ نو دا سُستي ده، کار کولو ته زړه نه کيدل، بے وجه د نن کار صبا ته پريښودل، او په داسې وئيلو چې ''اوس ئې کووم'' ''ښه کوومه ئې'' هغه کار وروستو کول، دا هُم د سُستۍ يوه حِصّه ده-

## د سستۍ بعضې طِبّي اَسباب

سُستي بعضې وخت د جِسماني بيمارو په وجه وي- مَثَلًا ❁ که خوب پوره نه وي نو سُستي کيږي ❁ که ټينشن وي نو د کار رفتار سست پريوځي ❁ که بلډ پريشر کم شي يا ❁ شُوګر کم شي نو هُم سُستي محسوسيږي ❁ په بدن کښې چې د وِينې يا ❁ وِټامِن کمي راشي ❁ خاص طور چې د وِټامِن ډي کمي وي نو بدن کښې سُستي محسوسيږي ❁ د موسم بدليدلو هُم زمونږ په بدن اثر کيږي، د يخنۍ په موسم کښې عام طور سُستي ډيره محسوسيږي- که د سُستۍ راتللو څه داسې وجه وي نو ډاکټر نه باقاعده علاج کول پکار وي-

---

1...فيض القدير، جلد:4، صفحه:307، تحت الحديث:5130-

بله سُستي هغه ده چې هغه د مِزاج حِصَّه وي، بنده په هره مُعامَله کښې آرام طلبۍ کښې اخته وي، جسماني طور هغه ته هيڅ مسئله نه وي پيښه خو د دې باوجود هغه په سستۍ کښې اخته وي۔

يوه سستي د بعضو باطِني بيمارو په وجه وي، د داسې سستۍ ډير اَسباب کيدے شي! د داسې سستۍ لس علاجونه واورئ۔

## ﴿۱﴾ ټال متول مه کوئ!

د سستۍ د ټولو نه لويه وجه طُولِ اَمل (يعني اُوګږد اُمِّيد) دے۔ کوم کس چې د نن کار صبا ته پريږدي نو هغه دا ګڼړي چې زه به صبا پورې ژوندے اوسم۔ دا يوه دوکه ده، په ژوند کښې صبا کله هُم نه راځي۔ د امام غزالي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اُستادِ مُحترم فرمائي: دُنيا درې ساګاني ده: ۞ يوه ساه کومه چې مونږه اغستې ده، په هغې زمونږ هيڅ اختيار نشته ۞ دويمه ساه کومه چې مونږه اخلو، مونږ ته چې څه کول دي په هُم دې کښې کول دي ۞ دريمه ساه کومه چې به راځي، د هغې هيڅ يقين نشته چې راځي به او که نه۔(1)

ياد ساتئ! د مرګ ټوره هر وخت زمونږ په سر رازوَرَنده ده، کله زلزله راشي او په يو ساعت کښې بيشميره خلق مره شي، څوک د بجلۍ د کرنټ لګيدلو په وجه، په چا د زړه دَوره راشي، څوک په قِسماقِسم حادثاتو کښې مړه شي، بهرحال انسان د هر طرفه د مرګ په خطراتو کښې ګير دے خو بيا هُم اُوګږده اُميدونه تړي۔ ياد ساتئ سستي د شيطان وسوسه نه ده بلکه دا د نفس مطالبه ده، که تاسو په دې معامله کښې سنجيده ئې نو د خپلو 24 ګينټو جائزه واخلئ، چې نفس کوم ځائے کښې د يو منټ سستي کوي نو فوراً ئې دباووئ او سستۍ ته ئې مه پريږدئ، نن که تاسو خپل نفس له د

---

[1]...منهاج العابدين، صفحه: 195۔

شو؟

يو مِنَټ سستۍ کولو اجازت ورکړئ نو صبا به دا د دوو منټو مطالبه کوي، دغسې که تاسو د يوے ګينټے سستۍ کولو اجازت ورکړئ نو صبا به دا دوو ګينټو مطالبه کوي، بس د نفس صرف يو علاج دے چې د ده خواهشات دباؤ کړے شي، بس د ده د خواهشاتو خلاف اوکړے شي، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عقل و نقل (يعني قرآن و حديث) او تجربه ګواه دي چې د نَفسِ اَمّاره رسۍ چې څومري راښکاږې دې دباويږي او چې څومره ئې سستۍ ته پريږدې، دې نورې ښپې خورَوِي [يعني نوره سستي کوي]۔

## ﴿۲﴾ ځان مصروفه کړئ

عربي مقُوله ده: اِنْ اَرَدْتَّ اَنْ لَا تَتْعَبْ فَاتَّعِبْ که ته ځان د ستړي والي نه خلاصول غواړې نو ځان ستړے کړه۔ [1] دا د ناراستۍ ختمولو زبردسته فارمولا ده، په دې خبره پوهيدلو د پاره په دې مثال غور اوکړئ چې يو سړے 15 يا 20 منټه منډه اُووهي نو ستړے شي او يو سړے د منډې عادت دے که هغه دوه ګينټے منډه اُووهي نو هُم نه ستړے کيږي، د دې وجه دا ده چې ده مخکښې ځان ستړے کړے دے نو اوس نه ستړے کيږي، نو معلومه شوه چې د ستړې نه هُم هغه کس خلاص وي څوک چې ځان ستړے کړي۔

نو اے **عاشقانِ رَسُول**! د دې مثال نه مونږ ته دا سبق حاصلول پکار دي چې مونږه د قيامت د پنځوس زره کاله ورځې د تيارۍ د پاره نن ځان په عبادتونو ستړے کړو نو د دې ستړې سره به عادت شو او اِنْ شَآءَاللّٰه ډير ډير عبادتونو کولو کښې به کامياب شو، ياد ساتئ! د آخرت د تيارۍ د پاره مونږ سره وخت ډير مختصر دے او امتحان ډير اُوګرد، نو ځکه مونږ ته د خپلې يوے يوے ساه د قيمت قدر کول پکار دي، بعضې

---

[1]...الذريعة الى مكارم الشريعة، الباب السادس، مدح السعي وذم الكسل، صفحه: 268۔

خلق وائي زه فلانکي وخت کښې فارِغ یم، دا جمله د يو مسلمان د خُلې نه ښه نه ښکاري، ځکه چې د مرګ نه پس زمونږ سفر ډير اُوګږد دے او د هغې تياري مونږ په هُم دې ژوند کښې کولے شو نو مونږ چرته فارغ کښيناستلو شو؟ **اللّٰه** پاک په قرآنِ مجيد ديرشمه سيپاره **سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاق** آيت نمبر 6 کښې اِرشاد فرمائي:

**يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ۚ**

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: اے انسانه! بےشکه ته ضرور د خپل رب په طرف منډه کوونکے ئې، بيا به هغه سره مخامخ کيږې۔

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والِد محترم مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي چې: قاضي شُرَيح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يو ځائے تيريدلو نو دوه سړي ئې په فُضُول کار کښې مصروفه اوليدل نو اوئې فرمائيل: : **اَلْفَارِغُ مَا اُمِرَ بِهٰذَا** يعني فارِغ [وزګار] کس ته د دې حُکم نه دے ورکړے شوے، بيا ئې د **سُوْرَة اَلَمْ نَشْرَحْ** آيت نمبر 7 تلاوت کړو، **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي:

**فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۙ**

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: چې کله ته وَزګار شې نو ښه ډير کوشش کوه۔

مطلب دا چې کله د يوه عبادت نه وزګار شې نو بل عبادت شروع کړه او يو وخت هُم د عبادت نه بغير مه پاتې کيږه ځکه چې ستا د پيدا کيدلو اصل مقصد صرف عبادت دے۔ (1)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د ځان نه ناراستي لرې کړئ، ځان مصروفه ساتئ، د خپلو 24 ګينټو جدول جوړ کړئ، په هغې کښې يو ساعت هُم وزګار مه پريږدئ، په

1...انوارِ جمالِ مصطفےٰ صلی اللہ علیہ وسلم، صفحہ: 323۔

شي؟

هغې کښې د خوب وخت هُم مقرر کړئ، د کور کسانو ته هُم وخت ورکوئ، بچو ته هُم وخت ورکوئ، هغوئي ته عِلمِ دِین هُم زده کوئ، سُنَّتونه او آداب ورزده کوئ، هغوئي سره خوشحال طبعي هُم کوئ، ضروري دِیني، دُنیوي او د کور کارونو د پاره هُم پکښې وخت مقرر کړئ، د عبادت وختونه هُم پکښې مُقَرَّر کړئ، خو جدول داسې جوړ کړئ چې په 24 ګینټو کښې پکښې یو منټ هُم بغیر د جدول نه نه وي، چې ستاسو ټائم پاس کولو د پاره بیا د تِي وِي، فَیس بُک، یُو ټِیوب او ویډیو ګیمونو وغیره ضرورت نه پیښیږي۔

## ﴿3﴾ په ځان زیات بوج مه اچوئ

**اے عاشقانِ رَسُول!** ځان مصروفه ساتئ خو د دې خبرې لحاظ ساتئ چې په ځان ډیر بوج مه اچوئ، ځکه چې په ځان باندې د وَس نه زیات بوج اچولو په وجه هُم سُستي پیدا کیږي، مَثَلًا تاسو 8 ګینټے د خوب د پاره اُوباسئ ځکه چې خوب کم وي نو هُم په بدن کښې سستي وي، پاتې شوې 16 ګینټے، مثال په طور که تاسو یو کار په دوه ګینټو کښې کولے شئ نو اَته کارونه به اوکړے شئ، اوس که تاسو یو دوه کارونه په ځان نور زیات کړئ نو دا به په تاسو بوج شي او بیا وخت کم او کارونه ډیر، نتیجتاً بنده سست پریوځي او دغسې به ستاسو هغه اَته کارونه هُم مُتأَثِّره شي، نو مونږ له پکار ده چې څومره کارونه کولے شو هغه همره کارونه په سر واخلو، هغه که دُنیوي کارونه وي او که عبادت وي چې چرې مونږه بیا د سستئ په وجه د خپل وس مناسب کار کولو کښې هُم ناکامه نه شو۔ **اُمُّ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سَیّدَتُنا عائشه صِدّیقه، طَیِّبه، طاهِره رَضِیَ اللہُ عَنْہَا نه تپوس اوکړے شو چې: زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به کوم کار زیات خوښولو؟ نو اُوئې فرمائیل: هغه کار کوم چې اِستِقامت سره اوکړے شي اګر که هغه لږ وي۔[1]

---

[1] ...ترمذی، کتاب الادب، باب:73، صفحہ:664، حدیث:2856۔

## ﴿۴﴾ د نفسِ اَمّاره دوه کمزورئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! زمونږ د نفس دوه کمزورئ دي: (1) نفس لالچي وي، تجربه اوکړئ، نفس چې په کوم کار کښې خپله فائده وِيني نو هغه ډير په منډه کوي- (2) د نفس دويمه لويه کمزوري دا ده چې نفس يَريږي ډير، که په يو لوئي هال کښې ناست وي او څوک راشي اُووائي چې دا چت رالويدو والا دے زر زر د دې ځائے نه اُوځئ نو سست نه سست بنده به هُم د هغه ځائے نه په منډه د وتلو کوشش کوي- نو تاسو د دې د پاره دا انداز هُم اختيارولے شئ چې نفس ته د جَنَّت نعمتونه ورياد کړئ، د جنَّت د ښکلو محلاتو تذکره اولولئ، د هغه ځائے د خوندوَر خوراکونو، د جَنَّت د غم درد نه پاک ژوند، د **اللّٰه** پاک د رضا، د ټولو نه زيات لوئي نعمت د **اللّٰه** پاک د ديدار مطالعه اوکړئ، بيا د هغې په مُقَابله کښې د جَهنَّم د عذاب، د هغه ځائے د لمبې وهونکي اور، غټو غټو مارانو، لړمانو مطالعه اوکړئ، په کوم کار کښې چې ستاسو نفس ډيره سستي کوي د هغې د فضائيلو مطالعه اوکړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه نفس به مو د نعمتونو په لالچ کښې ملګرتيا اوکړي او د دوزخ د عذابونو د ويرې به هُم عبادتونو ته مائل شي او دغسې به سستي پريږدي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۵﴾ بهانے مه کوئ

ياد ساتئ! د نفس مثال د ماشوم په شان دے، بس نفس وختي فائدے ته ګوري او د کار نه کولو بهانے لټوي، د ناراستئ ختمولو د پاره د نفس دا چال ناکامه کړئ او د کار نه

کولو بهانے مه لټوئ کار نه کول خپله کاميابي مه ګڼړئ بلکه د کار کولو په طريقو باندې غور کوئ، مَثَلًا د يخنئ په موسم کښې د سحر د لـمانځه د جَمعې [اِمامتئ سره د لـمونځ کولو] وخت دے او نفس دا غواړي چې په کور کښې لـمونځ اوکړي نو نفس که هر څومره سستي کوي تاسو وختي فائدے ته مه ګورئ بلکه د جَمعې د لـمانځه پريښودلو په نقصان باندې غور اوکړئ چې بے اِجازَتِ شرعي د جَمعې لـمونځ پريښودل ترکِ واجِب او سخته ګناه ده، او جَمعې سره لـمونځ کول د حديثونو مطابق 27 درجے او په يو روايت کښې 25 درجے ثواب دے نو تاسو د يخنئ نه بچ کيدلو د نفس د بهانے نه ځان اوساتئ او دائمي فائدے ته اوګورئ، او خپل وخت قيمتي کړئ ځکه چې د مسلمان د وخت قيمت جَنَّت دے- يوولسمه سيپاره، سُوْرَةُ التَّوبه، آيت نمبر 111 کښې اللّٰه پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: بےشکه اللّٰه پاک مسلمانانو نه د هغوئي مالونه او ځانونه اخستي دي په دې بدله کښې چې د هغوئي د پاره جَنَّت دے |

مشهور صوفي بُزرګ مولانا رُوم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: اوګورئ! اللّٰه پاک تاسو، ستاسو وخت، ستاسو ځان، ستاسو مال او کاروبار اخستي دي چې دا څيزونه د اللّٰه کريم په لاره کښې خرچ کړئ نو ستاسو د پاره د هميشه اوسيدلو جَنَّت دے، مسلمانانو! د اللّٰه پاک په نزد ستاسو داسې قيمت دے، که تاسو (خپل وخت په ګناهونو کښې تير کړئ او) ځانونه د دوزخ په بدل کښې خرڅ کړئ نو په ځان به ظُلم اوکړئ- (1)

[1]...فيه مافيه، صفحه:8-

## ﴿۸،۷،۶﴾ دُعا کوئ، په اوداسه کښې اوسئ، د کارونو هدف جوړ کړئ

۩ سستۍ نه بچ کيدلو د پاره دُعاګانې کوئ ځکه چې دُعا د مُؤمِن وسله ده، حُضُور نبىِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اُمَّت د تعليم د پاره دُعا غوښتله: **اَللّٰهُمَّ اِنِّىٓ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْعِجْزِ وَالْکَسْلِ** يا **اللّٰه** پاکه! زه د عاجزه کيدلو او سُستۍ نه ستا پناه غواړم ۩ په اَوداسه کښې اوسئ ۩ هميشه د کار د پاره يو هَدَف جوړوئ ۩ د ژوند يو مقصد جوړ کړئ او هميشه خپل مقصد په نظر کښې ساتئ-

## ﴿۹﴾ د سحر معمول مو صحيح کړئ

د **اللّٰه** پاک آخري نبي، مکِّـی مَدَنـی، رسولِ هاشِمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د پاره دُعا غوښتي ده: **اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِاُمَّتِىْ فِىْ بُكُوْرِهَا** يا **اللّٰه** پاکه! زما د اُمَّت د سحر په وخت کښې بَرَکت واچوې- (1)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د سحر په وختونو کښې ډير بَرَکت وي، نو اے **عاشقانِ رَسُول**! خپل د سحر معمولات صحيح کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه توله ورځ به تازه اوسئ- حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې خوږ مکِّـی مَدَنـی مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: چې کله تاسو کښې څوك اوده شي نو شيطان د هغه په څټ کښې درې غوټې اولګوي، په هره غوټه باندې دا خبره [د بنده] په زړه کښې کښينوي چې اوس لا شپه ډيره [پاتې] ده، اُوده شه، پس که هغه راويښ شي او د **اللّٰه** ذِکر اوکړي نو يوه غوټه خلاصه شي، چې اودس اوکړي نو دويمه غوټه خلاصه شي او چې لـمونځ اوکړي نو دريمه

---

1 ...اِبْنِ ماجه، کتاب: تجارت، صفحه: 357، حديث: 2236-

غوټه هُم خلاصه شي، بیا هغه خوشحاله خوشحاله او تر و تازه سحر کړي، ګني په غمګین زړه او سستیٔ سره سحر کړي. (بُخاری ج۱ ص ۳۸۷ حدیث ۱۱۴۲)

## ﴿۱۰﴾ د خپلې مُحاسبې عادت جوړ کړئ

آخري طریقه چې د دې په اختیارولو مونږه د دُنیا او آخرت بیشمیره فائدے حاصلولے شو هغه دا ده چې مونږ د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه عطا کړو نیکو اعمالو مطابق عمل اوکړو او هره ورځ د خپلو اعمالو جائزه اخستل د خپل ژوند لازمي حِصَّه اوګرځوو چې نن ما څه څه کړي دي او څه کولو کښې ناکامه شوے یم، نو اِنْ شَآءَاللّٰه د دې په بَرَکَت به ډیر زر د سستیٔ نه نجات حاصل کړو- **اللّٰه** پاک دِ مونږه د سستیٔ او ناراستیٔ نه په امان کښې اوساتي- **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## دولسو دِیني کارونو کښې یو کار: د سحر لـمانځه ته راپاڅول

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رَسُول مَدَني تَحرِیك دعوتِ اسلامي سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ او د ذیلي حلقے دولس مَدَني کارونه په ځان باندې لازِم کړئ. دولسو مَدَني کارونو کښې یو مَدَني کار ”د سحر لـمانځه ته راپاڅول“ هُم دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه ❖ ”د سحر لـمانځه ته راپاڅولو“ په بَرَکَت د تَهَجُّد د لـمانځه سعادت حاصلیدے شي ❖ د سحر لـمانځه ته د راپاڅولو په بَرَکَت د لـمانځه حفاظت کیږي ❖ ”د سحر لـمانځه ته د راپاڅولو“ په بَرَکَت د جُمات ورومبي صَف کښې تکبیرِ اُولیٰ سره د سحر د لـمانځه ادا کولو سعادت حاصلیدے شي ❖ ”د سحر لـمانځه ته د راپاڅولو“ په بَرَکَت ”د نیکیٔ دعوت“ ورکولو ثواب هم ګټلے شي. ❖ ”د سحر لـمانځه ته د راپاڅولو“ په بَرَکَت د عاشقانِ رسول مَدَني تَحریك دعوتِ اسلامي مشهوري او نیك نامي کیږي ❖ ”د سحر لـمانځه ته راپاڅولو“والا مسلمانانو ته بیا بیا د حج او خوږے مدینے

ليدلو دُعا کوي، که الله اوغواړي نو دا دُعاګاني به د هغه په حق کښې هُم قبولې شي.

❖ "د سحر لـمانځه ته راپاڅولو" کښې د پيدل ګرځيدلو په وجه به ستاسو صحت هُم ښه کيږي، دا يوه اضافي فائده ده، نِيَّت صرف د ثواب پکار دے ❖ مسلمانان د سحر لـمانځه ته راپاڅول سُنَّتِ مُصطَفٰی او سُنَّتِ صحابه نه ثابِت دي، چنانچه

اَميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ به چې [سحر] جُمات ته راروان وو نو [په لاره راتلو راتلو کښې به ئې] د سحر د لـمانځه د پاره خلق راپاڅول.

(طبقات کبریٰ، ذکر استخلاف عمر، ۳/۲۶۳مفهوماً)

## کلمه وئيلو وئيلو کښې دُنيا نه رُخصت شو

د پنجاب، ضلع اوکاړه د ديپالپور ښار د يو اِسلامي ورور بيان دے چې: زما تره محمد رفيق عطاري د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل او د شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مُريد هُم وو، د سحر لـمانځه ته خلق راپاڅول د هغوئي معمول وو، سحر وختي به راپاڅيدلو او د لرې لرې پورې به تللو او خلق به ئې د لـمانځه د پاره راپاڅول، د دې عادت په وجه په ټول ديپالپور کښې مشهور وو، يوه ورځ د فيصل آباد نه بيرته کور ته راروان وو، چې د ماسخُتن د لـمانځه وخت شو نو ګاډے ئې اودرولو او لـمونځ ئې ادا کړو او دوباره په سفر روان شو، ګاډے په خپل رفتار روان وو، ناڅاپه زما تره محمد رفيق عطاري په اوچت آواز کلمه وئيل شروع کړه او اُوئي وئيل: ټول کلمه اُووائے، ټولو کلمه اُووئيله، لږ ساعت پس ګاډي يوه زورداره جټکه اُوخوړله او کندې ته اولويدو، نور ټول خلق معمولي زخمي شو خو محمد رفيق کاکاجي ډير سخت زخمي شو، د سخت تکليف باوجود د هغه

په ژبه کلمه طَيِّبه جاري وي او ماشآءالله قسمت ته ئې اوګورئ چې! کلمه وئيلو وئيلو کښې د دُنيا نه رُخصت شو۔(1)

فضل وکرم جس پر بھی ہوا، لب پر مرتے دَم کلمہ | جاری ہوا، جنت میں گیا، لَااِلٰہَ اِلَّااللہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک په کرم د حُرمت يعني عِزَّت والا مياشت رَجَبُ الْمُرَجَّب راتلو والا ده، مونږ ته د رجب شريف بابرکته مياشت څنګه تيرول پکار دي؟ راځئ چې په دې باره کښې د شيخ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا محمد اِلياس عطَّار قادِري رَضَوِي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ مکتوب (يعني خط) واورو۔

# مکتوبِ عطَّار

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم دَ سګِ مدينه محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي عُفِیَ عَنْہُ له طرفه، د ټولو اسلامي ورونړو، اسلامي خويندو، د مدارِسُ المدينه او جامِعاتُ المدينه استاذانو، طَلَبه، مُعَلِّماتو او د طالِباتو په خِدمتونو کښې د کعبه مُشَرَّفه نه ګير چاپيره تاؤ شوے او ګُنبَدِ خَضرا ښکُلَوُنکے د رَجَبُ الْمُرَجَّب، شَعْبَانُ الْمُعَظَّم او رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژه دارو د بَرکتونو نه ډك سلام،

اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَۃُ اللّٰہِ وَبَرَکَاتُہٗ اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ عَلٰی کُلِّ حَالٍ

ہو نہ ہو آج کچھ مرا ذکر حُضور میں ہوا
ورنہ مری طرف خوشی دیکھ کے مسکرائی کیوں

(حدائقِ بخشش شریف)

---

[1]... حیرت انگیز حادثہ، صفحہ: 25۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ يو ځل بيا دَ خوشحالو ورځې راتلونكي دي، دَ رَجَبُ الْمُرَجَّب مياشت ډير زر راتلونكي ده. په دې مُباركه مياشت كښې دَ عِبادت تُخم كرلے كيږي، په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم كښې د پښيمانئ په اوښكو د هغې اوبه خوَر كيږي [يعني د اُوښكو اوبه وركولے] كيږي او دَ رَمَضانُ المُبارك په مياشت كښې دَ رحمت فصل ريبلے كيږي.

## د درې مياشتو روژے

د رَجَبُ الْمُرَجَّب قدردانو! كه په تَعلِيم و تَعَلُّم (يعني سبق وئيلو او ښودلو) او حلال كسب [مزدورئ وغيره] كښې مو څه رُكاوټ نه راځي، مور او پلار هم بے وجهې نه منع كوي او د هيڅ چا حق تَلَفي هُم نه كيږي نو زر زر او ډير زر مسلسل د درې مياشتو يا د رَمَضانُ المُبارك د فرضو روژو سره د چا نه چې څومره كيدے شي د هغه هُمره نفلي روژو د پاره ملا اوتړئ، په پيشمني او روژه ماتي كښې د كم خوراك په ذريعه دَ خيټې قُفلِ مدينه هم اولګوئ. كاش! چې په هر كور كښې او زما په ټولو مَدارِسُ المدينه او ټولو جامِعاتُ المدينه كښې د روژو سپرلي راشي، بس د وړومبي رَجَب نه روژے نيول شروع كړئ.

## د رَجَب د وړومبو درې روژو فضيلت

د رَجَب شريف د وړومبو درې ورځو د روژو د فضائِلو به څه وائي! د حضرت سَيِّدُنا عَبدُالله بنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نه رِوايت دے دَ سركارِ مَدينه قَرارِ قَلب و سِينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ رحمت نِشان دے: "د رَجَب د وړومبئ ورځې روژه د درې كالو كَفَّاره ده او د دويمې ورځې روژه د دوو كالو او د دريمې ورځې د يو كال كَفَّاره ده، بيا د هرې ورځې روژه دَ يوې مياشتې كَفَّاره ده."

(اَلجامِعُ الصَّغير لِلسُّيُوطي ص ٣١١ حدِيث ٥٠٥١، فَضائِلُ شَهرِ رَجَب لِلخَلّال ص ٦٤)

میں گنہگار گناہوں کے سوا کیا لاتا

نیکیاں ہوتی ہیں سرکار نِکوکار کے پاس

ما ګنهګار څه وې راوړې د ګناه نه سِوا

نيکئ خو وي زما سرکاره د نيکانو سره

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

دَ نفلي روژو هم څه ښکلي فضائِل دي! په دې باره کښې دوه احادِيثِ مُبارکه واورئ:

## (1) فرښتې دَ بخښنې دُعا کوي

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر وشي او هغه په ما دُرود پاک او نه لولي. (ترمذی)

حضرت سَيِّدَتُنا اُمِّ عُمَّاره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: حُضُورِ پاك، صاحِبِ لولاك، سَيَّاحِ افلاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما کره تشريف راوړو نو ما دَ هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمَتِ بابَرَکت کښې طعام پيش کړو نو اِرشاد ئې اوفرمائيلو: "ته هم اوخوره." ما عرض اوکړو: زما روژه ده. نو رَحمَتِ عالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: تر څو چې د روژه دار په مخکښې طعام خوړلے کيږي، فرښتے د هغه (روژه دار) د پاره دَ بخښنې دُعا کوي. (سُنَنِ ترمِذی ج۲ ص۲۰۵ حديث ۷۸۵)

## (2) د روژه دار هډوکي کله تسبِيح کوي؟

حَضرت سَيِّدُنا بِلال رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ دَ نَبِيِّ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمتِ کښې حاضر شو، هغه وَخت حُضُورِ پُرنُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناشته کوله، اُوئې فرمائيل: اے بِلال! ناشته اوکړه." عرض ئې وکړو: "يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما روژه ده." نو رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "مونږه خپله روزي خورو او د بِلال رِزق په جَنَّت کښې زياتيږي." اے بِلال! آيا ته خبر ئې چې تر څو د روژه ندار په مخکښې څه خوړلے کيږي تر هغې پورې دَ هغه هډوکي تسبِيح کوي [او] هغه ته فرښتے دُعا کوي." (شُعَبُ الاِيمان ج ۳ ص ۲۹۷ حديث ۳۵۸٦)

شوې؟

مُفَسِّرِ قرآن حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْحَنَّان فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې که د ډوډئ خوړلو په وَخت کښې څوك راشي نو هغه ته هم د ډوډئ سَت کول سُنّت دي، خو د زړه په اِراده دِ ورته سَت اوکړي د دروغو سَت دِ نه کوي، او راغلے کس دِ هم دروغ نه وائي چې زما زړه ته نه کيږي، چې لوَږه او دروغ يو ځائے نه شي، بلکه که خوړل نه غواړي يا اووينې چې ډوډئ کمه ده نو او دِ وائي **بَارَكَ الله** (يعني **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ بَرَکت درکړي) دا هم معلومه شوه چې د سَروَرِ کائِنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه خپل عبادتونه پټول نه دي پکار بلکه ښکاره دِ ئې کړي چې حُضُورِ پُرنُور، شافِعِ يَومُ النُّشور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې باندې ګواه جوړ شي. دا ښکاره کول رِياکاري نه ده. (دَ حضرت بِلال د روژه نيولو په اوريدو ئې چې څه اوفرمائيل دَ هغې شرح دا ده) يعني مونږه خپله د نن روزي خو هم دلته خورو او حضرت بِلال رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ به ئې د دې په بدله کښې په جَنَّت کښې خوري هغه بدله به دَدې نه غوره هم وي او زياته به هم وي. حديث بالکل په خپله ښکاره معنٰى دے، واقعي هغه وخت دَ روژه نيونکي هر هډوکې او جوړ بلکه رَګ رَګ تسبِيح (يعني د **الله** عَزَّوَجَلَّ پاکي) بيانوي، چې په هغې روژه نيونکے نه پوهيږي خو سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې اوري. (مِراة ج۳، ص۲۰۲، بتغيّر قليل)

که دا دواړه رسالے (۱) "**د کفن بيرته راتلل مَع د رَجَب سپرلي**" او (2) "**د آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مياشت**" مو لوستلي وي نو بيا ئې هُم اولولئ. او هر کال په **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** کښې د فَيضانِ سُنّت جِلد اوّل، باب "**فَيضانِ رَمَضان**" هم ضرور لولئ. که کيدے شي نو دَ **عِيدِ مِعراجُ النَّبي** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نِسبت 127 يا 27 رِسالے يا دَ خپل وَس مُناسِب "**فَيضانِ رَمَضان**" هم تقسيم کړئ او په دَلو دَلو ثوابونه اوګټئ، عام طور د ټولو اسلامي ورونړو او خاص طور د جامِعاتُ المدينه او مدارِسُ المدينه دَ ټولو قاريانو صاحِبانو، اُستاذانو، ناظِمانو او دَ طالب عِلمانو په خِدمتونو کښې زما ډير زيات مَدَني عرض دے

چې برائے کرم! (زما په ژوند هم او زما دَ مرګ نه پس هم) په زکوٰة، فِطره، دَ قُربانئ څرمنې او په نورو مَدَني عطیاتو جمع کولو کښې پوره پوره حصّه اخلئ. (اسلامي خویندې دِ نورو اِسلامي خویندو او محارِمو ته د مَدَني عطیاتو ترغِیب ورکوي) قسم په خدائے! زه چې دَ هغه استاذانو او طالبِ عِلمانو په باره کښې واورم نو ډیر خوشحالیږم کومو چې دَ خپل کلي یا ښار ته دَ تللو دَ خواهِش قرباني ورکړې وي او **رَمَضانُ المُبارك** په خپلو جامِعاتو کښې تیروي او دَ خپل **مجلِس** دَ هدایت مُطابِق د مَدَني عطیاتو په بَستو باندې ذمه وارې سنبالوي، کوم اُستاذان او شاګردان چې بغیر د څه مجبورئ نه صرف د سستئ یا د غفلت په وجه دَ عطیاتو نه جمع کولو مُظاهره کوي دَ هغوئ په وجه زما زړه ژاړي.

**خصوصي مَدَني ګل**: کوم اسلامي وررور یا اسلامي خور چې مَدَني عطیات راټول غواړي د هغوئ دَ پاره دَ چندے ضروري احکام معلومول فرض دي، تاکید دے چې که مخکښې مو لوستلي وي نو هم د **دعوتِ اسلامي** دَ اشاعتي ادارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوے د 100 صفحو کتاب، "**چندے کے بارے میں سوال جواب**" بیا اولولئ. **یا الله** عَزَّوَجَلَّ په **رَمَضانُ المُبارَك** کښې د مَدَني عطیاتو او په غټ اَختر کښې څَرمنې راټولو د پاره کوشش کوونکي کوم **عاشِقانِ رَسُول** چې زما زړه خوشحالوي، ته د هغوئ نه د همیشه همیشه د پاره خوشحاله شې او د هغوئ په خاطِر ما د ګنهګارو د سردار نه هم د همیشه د پاره راضي شې، **یا الله** عَزَّوَجَلَّ! کوم اسلامي وررور او اسلامي خور چې (د عُذر نه کیدو په صورت کښې) هر کال د درې میاشتو روژے نیولو او هر کال **جُمادَی الْاُخْرٰی** کښې رساله "**د کفن بیرته راتلل**" او د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** په میاشت کښې "**د آقا** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **میاشت**" او په **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** کښې "**فَیضانِ رَمَضان**" (پوره) دَ لوستلو یا اوریدلو سَعادت حاصل کړي ما ته او هغه ته دَ دُنیا او آخِرت ښیګړې رانصیب کړې او مونږه بے حِسابه اوبخښې او په جَنَّتُ الفِردوس کښې مو دَ خپل خوږ مَدَني حبیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

ګاونډ کښې يو ځائے لرې. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**خوړو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلوو. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (1)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## کم خوراک کول سُنَّت دي

دوه فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **(1)** چې کله بنده کم خوراک کوي، د هغه باطِن د نُور نه ډک شي (2) **(2)** څوک چې په دُنيا کښې کم خوري، کم څښي، **اللّٰه** پاک د فرښتو په مخکښې په هغه فخر کوي- (3)

**اے عاشقانِ رَسُول!** کم خوراک کول سُنَّت دي- ❀ زمونږه خوږ نبي مکّي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوَږې نه کم خوراک کولو [يعني ځان به ئې پوره نه مړَوَلو]، ❀ حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې په دُنيا کښې تشريف فرما وو، کله ئې مسلسل دوه شپې په مړه ګيډه نه ده خوړلې ❀ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوَږې د وجهې په خيټه مبارکه باندې کاڼړي تړل-

---

1 ...ابنِ عساکر ج۹ ص ۳۴۳

2 ...جامع صغیر، صفحہ:233، حدیث:3831-

3 ...مَجْمَعُ الزَّوائِد، کتابُ الْاَدب، باب حُسْنِ اَخْلاق کے بیان میں، جلد:8، صفحہ:19، حدیث:12687-

**د طعام د مقدار مُتَعَلِّق اَحکام:** ❀ داسې طعام خوړل چې ځان پوره موړ نه کړي، سُنَّت دي ❀ چې څومره اُوربے وي، هغه همره خوړل مُباح دي (يعني په دې کښې نه ګناه شته او نه ثواب) ❀ ځان دومره مړوَل چې د خيټې خرابيدلو انديښنه وي مکروه دي ❀ په خوراک کښې دومره کمي کول چې په فرائضو کښې خلل راشي، ناجائزه دي۔ (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي۔ (2) راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

---

1...بہارِ شریعت، حصہ:16، جلد:3، صفحہ:374 ملخصًا۔

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

1... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

شي؟

شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!       صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵